# 98 سنتونه او آداب

پښتو




شيخ طريقت، امير اهلسنّت، باني دعوت اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد الياس عطّار قادري رضوي**

دامت بركاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَ اللہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

**اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینه بقیع
ومغفرت

د رسالي نوم: 98 سُنَّتونه او آداب

اول ځل: ..........................................

تعداد: ......................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالي د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# 98 سُنَّتونه او آداب

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله ''98 سُنَّتونه او آداب'' په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## ټرانسليشن ډيپارٹمنٹ دعوتِ اِسلامی


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست

## 98 سُنَّتونه او آداب 2

98 سُنَّتونه او آداب.......................................................................1
د درود شريف فضيلت ..............................................................1
”د مدينے لاري مسافر“ د پينځلسو حروفو په ...........................1
نسبت د ګرځيدلو په باره کښي پينځلس سنتونه او آداب .......................1
د پيزار اچولو ووه” 7 “ آداب ................................................5
د ناستي اتلّس سنتونه او آداب..................................................7
”د مدينے د حاضرئ“ د دولسو حروفو په مناسبت سره ......................10
کور ته د تللو راتللو دولس سنتونه او آداب.........................................10
”شان امام اعظم ابو حنيفه“ د نُولّسو حروفو په نسبت .........................12
د تيل لګولو او ګمنز کولو ١٩ سنّتونه او آداب..........................................12
د”يَارسول الله“ دلسو حروفو په نسبت...........................................16
د نوکانو کټ کولو لس سنتونه او آداب...........................................16
”د سُنّتو ډک لباس اغوندئ“ 17 حروفو په نسبت .......................18
د لباس اغوستلو 17 سنتونه او آداب .........................................18

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا مضمون د "550 سنتیں اور آداب" صفحه 3 تا 54 نه د مختلفو مقاماتو نه اخستے شوے دے-

# 98 سُنَّتونه او آداب

**دُعائے عطار:** یاربِّ المُصطفٰي! چې څوک هم دا رساله "**98 سُنَّتونه او آداب**" اولوَلي یا ئې واورِي، هغه د سنّتو ګرځیدونکے تصویر جوړ کړې ، هغه او د هغه راتلونکې نَسلونه هم ریښتوني عاشقان رسول جوړ کړې-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د درود شریف فضیلت

د **آخري** نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان : په ورځ د قیامت به د الله پاک د عرش نه علاوه بل سورے نه وي، درې کسان به د الله پاک د عرش د سُوري د لاندې وي عرض اوکړے شو: یارسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه به څوک وي؟ ارشاد ئې اوفرمائیل: (۱) هغه کس کوم چې زما د اُمّتي پریشاني لرې کړې (۲) زما سنّت ژوندے کوونکے (۳) او په ما باندې کثرت سره درود شریف ویونکے- (البدور السافرة في امورالآخره للسیوطي، ص ۱۳۱، حدیث:۳٦٦)

## "د مدینے لارې مسافر" د پینځلسو حروفو په نسبت د ګرځیدلو په باره کښې پینځلس سنتونه او آداب

(۱) پینځلسمه سیپاره سورة بني اسرائیل آیت نمبر ۳۷ کښې الله پاک فرمائي:

وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾

**ترجمه کنزالایمان:** او په زمکه باندې په تکبّر سره مه ګرځه، بے شکه ته به هیڅ کله هم زمکه اونه شلولے شې او هیڅ کله به هم په اوچتوالي کښې غرونو ته اونه رسې۔

(۲) "**بهار شریعت**" جلد ۳ صفحه ٤۳٥ کښې فرمان مصطفي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دے: یو کس دوه څادرونه اچولي وو او په غرور کښې روان وو او په تکبر کښې وو، هغه په زمکه کښې خخ کړے شو، او تر قیامته پورې به په زمکه کښې ښکته روان وي[1] (۳) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به په تللو کښې بعضې وخت د خپل یو صحابي لاس خپل لاس مبارک کښې نیولو[2] (٤) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به چې کله روان وو نو **مخې** طرف ته به څه قدر ټیټ تللو ګویا چې د اوچتوالي نه ښکته کوزیږي۔[3] (٥) په غاړه کښې اَچولے د سرو زرو یا د اوسپنې **چِین** ، خلقو ته ښودلو د پاره خلاص ګریوان هیڅ کله مه ګرځئ څکه چې دا د بےوقوفو، مغرورانو او فاسقانو چال دے۔ په غاړه کښې د سرو زرو **چِین** یا بریسلیټ اچول د نارینوو د پاره **حرام** او د نورو اوسپنو وغیره اچول هم ناجائزه دي (٦) که څه رُکاوټ نه وي نو د لارې په غاړه غاړه په درمیانه چلن سره ځئ، نه دومره تیز چې د خلقو سترګې ستاسو طرف ته اوچتې شي چې دا چرته په منډه منډه روان دے! او نه دومره په مزه مزه چې کتونکو ته بیمار ښکاره شئ - **اَمرَد** (یعني هغه هلک د چا چې ګیره او بریت نه وي) یا د ښکلي هلک لاس مه نیسئ، په شهوت سره د یو کس لاس نیول یا مصافحه کول (یعني لاس ملاوول) یا غاړې وتل **حرام** او جهنم ته بوتلونکے کار دے (۷) په لاره تللو کښې پریشان نظري (یعني بغیر د ضرورت نه اخواه دیخواه

کتل) سنت نه دي، ښکته ګورئ او په وقار [يعني دروناوې] سره ځئ-
**حکايت**: حضرت سيدنا حسان بن ابي سنان رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَـنْهُ د اختر د لمُونځ د پاره لاړلو، کله چې ئې کور ته واپس تشريف راوړو نو بي بي ورته وائي: نند دې څومره ښځې اوليدلې؟ هغوئي خاموشه وو، کله چې هغې ډير اصرار اوکړو نو اوئې فرمائيل: **د کور نه وتلو نه واخله ستا خواه ته واپس راتللو پورې مې د خپلو ښپو ګوتو ته کتل-** [٤] سُبْحٰنَ اللّٰـه عَزَّوَجَلَّ! **د** اللّٰه پاک نيکان بندګان چې په لاره روان وي نو بغير د ضرورت نه د اخوا ديخوا کتلو نه د بچ کولو کوشش کوي! هسې نه چې شرعاً کوم څه ته دکتلو اجازت نه وي او په هغې مې نظر پريوځي! دا د هغه بزرګ تقویٰ وه، مسئله دا ده چې په يوه زنانه باندې پخپله [يعني بے خيالئ کښې] نظر پريوځي او فوراً ئې اوګرځوې نو ګنهګار نه دے (٨) د چا د کور روشندان يا کړکئ ته بے ضرورته کتل مناسب نه دي-

(٩) په ګرځيدلو کښې يا پوړو باندې ختلو کوزيدلو کښې احتياط کوئ چې د پيزار آواز پيدا نه شي (١٠) که په لاره دوه زنانه ولاړې وي يا رواني وي نو د هغوئي په مينځ کښې مه تيريږئ ځکه چې په حديثِ پاک کښې د دې ممانعت راغلے دے-(٥) (١١) په لاره باندې په روانه، يا په ولاړه بلکه د ناستې په صورت کښې هم د خلقو په مخکښې تُوکل، پوزه سونړل، په پوزه کښې ګوتې وهل، غوږونه ګرَوَل، د بدن خيرې په ګوتو مږل، د پردے ځائے ګرول، وغيره د تهذيب خلاف دي (١٢) د بعضې خلقو عادت وي چې په لار روان وي او کوم څيز هم مخې ته ورځي هغه په لتو وهي، دا قطعاً غير مهذبه طريقه ده، داسې کولو سره د ښپې زخمي کيدلو هم انديښنه وي، دغه شان اخبارونه يا هغه ډبې

چې په هغې ليکل شوي وي، پيکټې او د مِنرل واټر ليبل والا خالي بوتلې وغيره په لتو وهل بے ادبي ده- (۱۳) پيادل تللو کښې د ګاډو د تلو راتلو په موقع باندې په سړک پورې وتلو د پاره که ممکنه وي نو ”زيبرا کراسنګ“ يا ”اوور هيډ پل“ استعمالوئ (۱٤) د کوم طرف ته چې ګاډي راځي نو هغه طرف ته په کتلو سره په سړک پورېوځئ، که تاسو د سړک په مينځ ئې او ګاډي رارون وي نو د منډې کولو په ځائے د موقع په مناسب سره په خپل ځائے اودريږئ ځکه چې په دې کښې حفاظت ډير دے خو د ريل ګاډي تيريدلو په وخت کښې په پټړئ باندې پوريوتل خپل مرګ له دعوت ورکول دي، د ريل ګاډے لرې ګڼړلو والا ته په تادئ يا بےخيالئ کښې څه تار وغيره کښې د ښپې نښتلو په صورت کښې د راپريوتلو او د ريل ګاډي د راختلو خطره په ذهن کښې ساتل پکار دي او بعضې صورتونه داسې وي چې هغه ځائے کښې په پټړئ پوريوتل هم خلافِ قانون وي- خصوصاً په اسټيشنونو کښې، په دې قوانينو عمل کوئ (۱۵) د عبادت د پاره د قوت حاصلولو په نيت حتي الامکان روزانه پاؤکم يوه ګينټه ذکر و درود سره پيادل ګرځئ ان شاءالله الکريم صحت به مو ښه وي- د ګرځيدلو بهتره طريقه دا ده چې په شروع کښې پينځلس منټه تيز تيز قدمونه، بيا پينځلس منټه درميانه، او بيا پينځلس مينټه په تيزو قدمونو ځئ، دغه شان ګرځيدلو سره پوره جسم ته ورزش ملاويږي، نظامِ انهظام به موصحيح وي، د بادي، قبض، پيږ والي، د زړه د مرضونو او د نورو بيمارو نه به ان شاءالله الکريم په حفاظت کښې اوسئ-

د سنتو زده کولو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِينه نه ”بهار شريعت“ جلد ۳ حصه ۱٦ او د ۱۲۰ صفحاتو کتاب ”سُنَّتيں اور آداب“ ترلاسه کړئ او اوئې لولئ- د سنتو زده کولو

د پاره د دعوت اسلامي مدني قافلو كښې عاشقان رسول سره د سنتو ډك سفر كوئ۔

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پيزار اچولو وه" 7 " آداب

(۱)د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: پيزار په كثرت سره استعمالوئ ځكه چې تر كومه پورې بنده پيزار په ښپو كړي وي داسې ده لكه چې سور وي" (يعني لږ سترے كيږي)[٦] (۲) پيزار د اچولو نه مخكښې اوڅنډئ ځكه چې كه څه خزنده [مار، لړم] وغيره يا كانړے پكښې وي نو هغه به ترينه اوغورزيږي **حكايت**: وائي چې يو كس د دعوت نه فارغه شو او څنګه چې ئې پيزار په ښپو كړل نو يوه چغه ئې اوكړه او د ښپې نه ئې وينه روانه شوه! په اصل كښې خبره داسې وه چې د خوراك په دوران كښې چا تيره هډوكے غورزولے وو نو هغه په پيزار كښې دننه لاړو او په ښپو كونكي پيزار د څنډلو نه بغير په ښپو كړو نو ښپه ئې زخمي شوه۔ (۳) سنت دا دي چې اول د ښئ ښپې پيزار په ښپو كړي او بيا د ګڅې ښپې او په وښكلو كښې اول د ګڅې او بيا د ښئ ښپې۔ د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "كله چې ستاسو نه څوك پيزار اچوي نو د ښي طرف نه دې ابتداء كوي او چې كله ئې اوباسي نو د ګڅ طرف نه دې ابتداء كوي چې ښے طرف په ښپو كولو كښې

اول او په وښکلو کښې آخر راشي-" (۷) نُزهَةُالقاري کښې دي: جمات ته د داخليدلو په وخت کښې حکم دا دے چې اول ښئ ښپه په جمات کښې کيږدي او چې کله د جمات نه اوځي نو اول دې کڼه ښپه اوباسي جمات ته د حاضرئ په وخت کښې (د پيزار اچولو والا حديث باندې عمل کول مشکل دي) اعلي حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حل داسې ارشاد فرمائي: چې "کله جمات ته ننوځئ نو اول کڼه ښپه د پيزار نه اوباسئ او د پيزار دپاسه ئې کيږدئ بيا د ښئ ښپې نه پيزار اوباسئ او جمات ته ښپه داخله کړئ- او چې کله د جمات نه رابهر کيږئ نو کڼه ښپه اوباسئ او په پيزار باندې ئې کيږدئ بيا ښئ ښپه بهر کړئ او ښئ پيزار په ښپو کړئ او بيا د کڼې ښپې پيزار په ښپو کړئ-" (۸) حضرت سيدنا ابن جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کس چې هميشه پيزار په ښپو کولو کښې د ښي طرف او اوباسلو کښې د کڼ طرف نه شروع کوي نو دا کس به د **تورِي** د بيمارئ نه **محفوظه** اوسي-(۹)" (٤) زنانه دې د زنانو (يعني ليډيز) او نارينه دې نارينو پيزار استعمالوي- (٥) چا حضرت بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته عرض اوکړو چې يوه زنانه د نارينو (يعني د سړو) په شان پيزار په ښپو کوي- **هغې** رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اوفرمائيل: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سړو سره مشابهت کوونکو زنانو باندې لعنت فرمائيلے دے-(۱۰) يعني زنانو له د نارينو پيزار په ښپو کول نه دي پکار بلکه هغه ټولې خبرې په کومو کښې چې د زنانو او نارينو فرق وي په هغې کښې هر يو ته د بل وضع اختيارولو نه منع راغلې ده، نه دِ نارينه د زنانو وضع اختياروي، او نه زنانه د نارينو- (۱۱) (٦) کله چې کښينئ نو پيزار اوباسئ ځکه چې د دې سره ښپې دمه کيږي - (۷) استعماليدونکے پيزار که

نسکور پروت وي نو سَم کوئ ئې- (د تنګدستۍ يو سبب دا هم دے چې نسکور پيزار ليدل او هغه نه سَمَوَل-)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ناستې اتلّس سنتونه او آداب

(١) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم خلق چې د ډير وخته پورې يو ځائے کښې کښيني او د الله پاک د ذکر او په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود وئيلو نه بغير د هغه ځائے نه خواره شي، نو هغوئي نقصان اوکړو که الله پاک اوغواري نو عذاب به ورکړي او که اوغواړي نو بخښنه به ئې اوکړي[١٢] (٢) حضرت سيدنا ابن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي چې ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کعبے شريفې په انګڼ کښې د اِحتِبا په صورت کښې تشريف فرما اوليدلو[١٣] (٣) د احتبا مطلب دا دے چې سرے د په سُرينو کښيني او خپل دواړه لاسونه د زنګونانو نه راتاو کړي دا قسمه ناسته په تواضع (عاجزئ) کښې شمارلې کيږي[١٤] (٤) په دې دوران بلکه کله چې هم کښينئ نو د پردے د ځايونو کيفيت ښکاره کيدل نه دي پکار [يعني چې په کپړو کښې د پردے ځايونه راوتلي نه ښکاري]، لهذا "د پردے د پاسه د پردے" کولو د پاره د پنډو، زنګونانو نه تر قدمونو پورې څادر اچول پکار دي که کُرته د سنت مطابق د پنډو د نيمې پورې وي نو د هغې په لمَن کښې هم "د پردے د پاسه د پرده" کولے شئ (٥) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د سحر لمُونځ اوکړو نو پرلت به ئې اُووهلو او ناست به وو، تر دې پورې چې نمر به راوختلو[١٥] (٦) جامع کرامات اولياء جلد اول صفحه ٦٧ کښې

دي: د امام یوسف نبهاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د تشهّد (یعني په لمونځ کښې چې په التحیات کښې ځنګه کښېني دغه شان) د کښېناستلو عادتِ مبارک وو- (۷) د لمونځ نه بهر هم د التّحیات په شان ناسته کول بهتر دي[۱۶] (۸) د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په مجلسونو کښې د ټولو نه زیات مُکرَّم (یعني عزت والا) هغه مجلس دے په کومه کښې چې د قبلے طرف ته مخ کړے شي"[۱۷] (۹) حضرت سیدنا عبدالله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما به اکثر مخ په قبله کښېناستلو-[۱۸] (۱۰) د مبلغ او مدرس د پاره د تدریس په دوران کښې سنت دا دي چې د قبلے طرف ته شا کوي چې د هغه نه د علم خبرې اوریدونکو مخ قبلے طرف ته وي چنانچه سیدنا علامه حافظ سخاوي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به قبلے ته ځکه شا کوله چې هغوئي چا ته علم زده کوي یا ورته وعظ فرمائي چې د هغوئي مخ د قبلے طرف ته شي-[۱۹] (۱۱) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کله هم په یو مجلس کښې د چا طرف ته ښپې نه غزولې ، نه د اولاد طرف ته او نه د ازواج پاک طرف ته او نه د غلامانو او خادمانو طرف ته-[۲۰] (۱۲) حضرت سیدنا امام اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما کله هم د خپل استاد محترم سیدنا حماد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه کور طرف ته ښپې نه دي غزولي د هغوئي د احترام د وجهې نه، (حالانکه د امام اعظم د کور مبارک نه د استاد محترم کور د یو څو کوڅو په فاصله کښې وو)[۲۱] (۱۳) د راتلونکي د پاره ځائے [د خپل ځائے نه] خوزیدل د حدیث نه ثابت دي،"بهار شریعت" جلد ۳ صفحه ۴۳۲ کښې حدیث نمبر ۶ دے: یو کس د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، اوحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جُمات کښې تشریف فرماوو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ځائے نه اُوخوزیدلو، هغه عرض اوکړو،

يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځائے فراخه دے، (يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو ته د خوزيدلو او تکليف کولو ضرور نشته) ارشاد ئې اوفرمائيل: د مسلمان دا حق دے چې کله د هغه ورور هغه اُووينې، نو د هغه د پاره دِ د خپل ځائے نه اوخوزيږي - (٢٢) (١٤) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "کله چې ستاسو نه څوک په سوري وي او په هغه باندې سورے ختم شي او هغه څه په نمر او څه په سوري کښې پاتې شي نو هغه له پکار دي چې د هغه ځائے نه پاڅي" (٢٣) (١٥) اعلي حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: "د پير او استاد په غير موجودګۍ کښې د هغوئي په ځائے باندې مه کښينئ-" (٢٤) (١٦) کله چې اجتماع يا يو مجلس ته راشئ نو د خلقو د پاسه مخکښې مه اوړئ چرته چې درته ځائے ملاو شي هلته کښينئ (١٧) کله چې کښېنئ نو پيزار اوباسئ، ستاسو ښپې به دمه کيږي -(٢٥) (١٨) د مجلس يعني ناستې نه چې فارغه شئ نو دا دعا درې ځله اولولئ نو خطاګانې به مو معاف شي او چې څوک ئې په مجلسِ خير او مجلسِ ذکر کښې اولَولي نو د هغه د پاره په هغه خير مُهر اولګي هغه دعا دا ده:"

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ، اَسْتَغْفِرُكَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْكَ

(**ترجمه**: ستا ذات پاک دے، او اے الله پاکه! هُم ستا د پاره ټول صفتونه دي، ستا نه علاوه بل څوک معبود نشه، ستا نه بخښنه غواړم او هم ستا طرف ته توبه کووم)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ”د مدینے د حاضرئ“ د دولسو حروفو په مناسبت سره کور ته د تللو راتللو دولس سنتونه او آداب

(۱)کله چې د کور نه بهر اُو وځئ نو دا دعا اپووائې: ”بِسۡمِ اللهِ تَوَکَّلۡتُ عَلَی اللهِ، لَا حَوۡلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ“ **ترجمه**: الله پاک په نوم، ما په الله پاک باندې یقین اوکړو، د الله پاک نه بغیر نه طاقت شته نه قوت(۲۷)- ان شاءالله الکریم د دې دعا لوستلو په برکت به په نیغه لاره اوسیږئ، د آفتونو نه به په حفاظت کښې اوسئ، او د الله پاک مدد به مو شاملِ حال وي (۲) کور ته د داخلیدلو دعا : اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَالُكَ خَیۡرَ الۡمَوۡلَجِ، وَ خَیۡرَ الۡمَخۡرَجِ، بِسۡمِ اللهِ وَ لَجۡنَا، وَ بِسۡمِ اللهِ خَرَجۡنَا، وَ عَلَی اللهِ رَبِّنَا تَوَکَّلۡنَا[1] (۲۸) د دعا لوستلو نه پس د کور خلقو ته سلام اوکړئ بیا په بارګاه رسالت کښې سلام عرض کړئ د دې نه پس سُوۡرَةُ الۡاِخلاص شریف اولولئ- اِن شَاءَاللّٰهُ الکَرِیم په روزئ کښې به مو برکت، او د کورنو جګړو نه به مو حفاظت کیږي (۳) خپل کور ته تللو راتلَلو کښې مَحارِم و مُحرَّمَات (مثلاً مور، پلار، ورور، خور، بچو، وغیره) ته سلام کوئ (٤) د الله پاک نوم اخِستلو نه بغیر مثلاً بِسمِ اللّٰهِ وئیلو نه بغیر چې څوک کور ته داخلیږي شیطان هم د هغه سره کور ته داخلیږي (٥) که چرته داسې مکان (اګرچې خالي وي) ته داخلیږي چې په هغې کښې څوک نه وي نو داسې اُووائې: اَلسَّلَامُ عَلَیۡنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِیۡنَ (یعني په مونږ او

---

[1] ترجمه:اے الله پاکه! زه ستا نه د داخلیدلو او د وتلو خیر غواړم، د الله پاک په نوم مونږ کور ته داخل شو او هم د هغه په نوم رابهر شو او په خپل رب الله پاک باندې مونږ یقین اولرلو-

د الله پاک په نيکانو بندګانو باندې سلام) فرشتے به دد دې سلام جواب درکوي-[۲۹] يا داسې وائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَاالنَّبِیُّ (يعني سلام دِ وي په تا باندې يا نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ځکه چې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روح مبارک د مسلمانانو په کورونو کښې تشريف فرما وي-[۳۰] (٦) کله چې د چا کور ته داخليدل غواړئ نو داسې وائې: السلام عليکم آيا زه دننه درتلے شم؟ (٧) که د داخِليدلو اجازت ملاو نه شي، نو ښه په خوشحالئ واپس کيږئ د څه مجبورئ په وجه به د کور کسانو د داخليدلو اجازت نه وي درکړے (٨) کله چې څوک ستاسو د کور دروازه اُوډبوي نو سنت دا دي چې تپوس اوشي چې څوک ئې؟ بَهر کس ته پکار دي چې خپل نوم اوښائي، مثلاً داسې اووائي: "محمد الياس." د نوم اخِستلو په ځائے په دې موقع داسې وئيل چې "مدينه!"، زه يم!"، "دروازه برسيره کړه" وغيره وئيل سنت نه دي (٩) په جواب کښې د نوم اخستلو نه پس د دروازے نه لږ لرې اودريږئ چې دروازه برسيره شي نوچې د کور دننه نظر نه پريوځي (١٠) د چا کور ته کتَل ممنوع دي د بعضې خلقو کورونو ته مخامخ ښکته طرف ته د نورو خلقو کورونه وي لهذا روشندان وغيره نه مخامخ د دې خبرې خيال ساتل پکار دي چې د نورو خلقو کورونو ته نظر لاړ نه شي (١١) د چا کور ته چې لاړ شئ نو د هغه ځائے په انتظاماتو باندې تنقيد مه کوئ د دې په وجه د هغوئي زړۀ آزاريدے شي (١٢) واپسئ کښې د اهلِ خانه په حق کښې دعا اوکړئ او شکريه ئې هم ادا کړئ او [واپسئ کښې هُم] سلام اوکړئ او که کيدے شي نو د سنّتو ډکه رساله هم ورته په تُحفه کښې پيش کړئ-

# ”شان امام اعظم ابو حنيفه“ د نُوَلّسو حروفو په نسبت د تيل لګولو او ګمنز کولو ۱۹ سنّتونه او آداب

(۱)حضرت سيدنا انس رَضِیَ اللہُ عَنۀ فرمائي: چې د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل سر مبارک اکثر تيل لګول او ګيره مبارکه به ئې ګمنزوله او اکثر به ئې په سر مبارک کپړه (يعني سر بند شريف) کيښودلو تر دې پورې چې هغه کپړه به په تيلو غوړه شوه- معلومه شوه چې ”سربند“ استعمالول سنّت دي، اسلامي ورونړو له پکار دي چې کله هم په سر باندې تيل لګوي، نو يوه وړه شان کپړه دِ په سر تړي، دغه شان به اِن شا ءَالله الکريم ټوپئ او عمامه شريفه د غوړيدلو او ګنده کيدلو نه ب محفوظه وي- اَلحَمدُ لله دسکِ مدينه د ډيرو کالونو نه د سنّت په نِيَّت د”سربند“ استعمالولو معمول دے اعلي حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:

*تيل کی بوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا صبحِ عارِض پہ لٹاتے ہیں ستارے گیسو*

(۲) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”د چا چې ويښته وي هغه دِ د هغې احترام کوي [۳۳]“ يعني ويښته دِ وِينځي، تيل دِ لګوي او ګمنزوي دِ ئې [۳٤]، د سر او ګيرې ويښته صابن وغيره سره د وينځلو معمول چې د چا نه وي د هغوئي په ويښتو کښې اکثر بدبوئي پيدا کيږي بلکې که په هغه باندې بدبُوئي نه لرې خو نورو ته ورځي. چې د خُلې، ويښتو، بدن او لباس وغيره نه بدبُوئي راځي نو په داسې حال کښې جمات ته داخليدل حرام دي چې په دې خلقو ته او فرشتو ته تکليف رسي- خو که بدبُوئي وي خو پټه وي لکه د ترخونو بدبُوئي نو په دې کښې حرج نشته (۳) د حضرت سيدنا نافع رَضِیَ اللہُ عَنۀ

نه روايت دے چې حضرت سيدنا ابن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡهما به په ورځ کښې دوه ځله تيل لګول [۳۵] په ويښتو کښې د تيلو په کثرت سره استعمالول خصوصاً د اهلِ عِلم حضراتو د پاره ډير مفيد دي چې دې سره په سر کښې خشکي نه کيږي، دماغ تازه او حافظه ورسره قوي کيږي (٤) د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کله چې تاسو کښې کوم کس تيل لګوي نو د وروځو نه دِ ئې شروع کوي، دې سره د سر درد ختميږي۔“[۳۶] (٥) نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله تيل لګول نو اول به ئې د خپل کڼ لاس په تلي کښې تيل واچول، بيا به ئې هغه اول په خپلو دواړو وروځو او بيا په سر مبارک لګول [۳۷] (٦) د ”طبراني“ په روايت کښې دي: نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله په ږيره تيل لګول نو ”عَنفَقَه“ (يعني د لاندينۍ شونډې او د زنې په مينځ کښې ويښتو) نه به ئې شروع کوله [۳۸] (٧) ږيره ګمنزوَل سنّت دي [۳۹] (٨) د بِسمِ الله وئيلو نه بغير تيل لګول او ويښته ګډوډ خواره پريښودل خلافِ سنّت دي (٩) حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د بسم الله وئيلو نه بغير تيل لګوي نو اويا شيطانان ورسره شريکيږي [٤٠] (١٠) حضرت سيّدنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: حضرت سيدنا ابوهريره رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: يو ځل د مؤمن د شيطان او د کافر د شيطان ملاقات اوشو، د کافر شيطان ښه پيړ، تازه او په ښه لباس کښې وو۔ او د مؤمن شيطان وچ نرے شيندلي ببر ويښته او بربنډ وو۔ د کافر شيطان د مؤمن شيطان نه تپوس اوکړو : آخر ته ولے دومره کمزورے ئې؟ هغه جواب ورکړو: زه د داسې کس سره يم چې د خوراک څښاک په وخت کښې بسم الله شريف وائي نو زه وږے تږے پاتې شم، چې کله تيل لګوي نو بسم الله شريف اووائي نو زما ويښته بَبَر پاتې شي په دې

کنبې د کافر شیطان اووئيل: زه خو د داسې کس سره يم چې په دې کارونو کنبې هيڅ هم نه کوي لِـهذا زه د هغه سره په خوراک څښاک کنبې، لباس او تيل لګولو کنبې شريکيږم [٤١] (١١) د تيل اچولو نه مخکښې "بسم الله الرحمن الرحيم" اووائې او د کڼ لاس په تلي کنبې لږ شان تيل واچوئ، بيا اول د ښئ سترګې په ورُوزه او بيا د کڼې سترګې په ورُوزه، بيا د ښئ سترګې په بنړو او بيا د کڼې سترګې په بنړو، او بيا په سر تيل واچوئ- او که ګيره باندې تيل لګوئ نو د لاندينئ شونډې او زنې په مينځ کنبې ويښتو نه شروع کوئ. (١٢) تيل لګوونکے چې څنګه ټوپئ يا عمامه لرې کړي نو د بدبوئي يوه چپه ترينه راشي د شړشمو تيل استعمالوونکي دِ خاص خيال ساتي- لِـهذا د چا نه چې کيدے شي هغه دِ په سر ښه او خوشبودار تيل لګوي، د خوشبودارو تيلو جوړولو يوه اسانه طريقه دا هم ده چې د کوپړے د تيلو په شيشه کنبې د خپلې خوښې عطرو يو څو څاڅکي واچوئ او حل ئې کړئ خوشبودار تيل تيار شو- د سر او ګيرې ويښته وخت په وخت په صابن وينځئ (١٣) په زنانؤ لازم دي چې په ګمنزولو يا سر وينځلو کنبې چې کوم ويښته اُوځي نو چرته دِ ئې پټوي چې په هغې د پردي سړي (يعني داسې کس چې د هغه سره هميشه د پاره نکاح حرامه نه وي) نظر پرينوځي [٤٢] (١٤) نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روزانه ګمنز کولو نه منع فرمائيلي دي. [٤٣] دا نهي (يعني ممانعت مکروه) تنزيهي دے او مقصد دا دے چې نارينه له په ډَول سنګهار کنبې مشغول اوسيدل نه دي پکار [٤٤] امام مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کس ته چې د ويښتو د ګڼړوالي په وجه ضرورت وي نو هغه ئې مطلقاً روزانه ګمنزولے شي [٤٥] (١٥) د امام اَهلِسُنَّت اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه شوے سوال و جواب ملاحظه کړئ،

**سوال:** ګيره کوم کوم وخت کښي ګمنزول پکار دي؟

**جواب:** د ګمنزولو د پاره په شريعت کښې څه خاص وخت مقرر نه دے د اعتدال (يعني ميانه روئ) حکم دے، نه دِ داسې کوي چې بنده د پيريانو په شان شکل جوړکړې او نه داسې پکار دي چې هر وخت په ويښتو ګمنزولو کښې اخته وي[٤٦] (١٦) د ګمنزولو وخت کښي د ښي طرف نه شروع کوئ چنانچه اُمُّ المُؤمنين حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي: نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په هر کار کښي د ښي طرف ته شروع کول خوښول تر دې پورې چې پيزار په ښپو کولو او ګمنز کولو او طهارت کښې هم، [٤٧] شارح بخاري حضرت علامه بدرُالدين عيني حنفي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې حديث پاک لاندې ليکي: دا درې څيزونه د مثال په طور ارشاد فرمائيلے شوي دي، هسې خو هر کار چې عزت و بزرګي لري هغه د ښي طرف نه شروع کول مستحب دي لکه جمات ته داخليدل، لباس اغوستل، مسواک کول، رانجه لګول ، نوکان کټ کول، بريت کټ کول، د ترخونو ويښته کټ کول، اودس، غسل کول، او د بيت الخلا نه بهر راوتل وغيره او چې په کوم کار کښي دا (يعني د عزت و بزرګئ) خبره نشته، لکه جمات نه بهر راوتل، بيت الخلا ته داخليدل، پوزه پاکول، دغه شان قميص پرتوګ اوښکلو وخت کښي کڼ طرف نه ابتدا کول مستحب دي[٤٨] (١٧) د جمعے لمُونځ د پاره تيل او خوشبو لګول سنت دي[٤٩] (١٨) د روژے په حالت کښې په ګيره يا بريتو کښي تيل لګول مکروه نه دي خو که د دې د پاره تيل لګوي چې ګيره ئې غټه شي، حالانکه يو موټے ګيره ئې ده نو دا بغير روژے نه هم مکروه دي او په روژه کښې بدرجهٔ اولیٰ[٥٠] (١٩) د مرې په ګيره يا سر کښي ګمنز کول ناجائزه او ګناه ده[٥١]- ډير خلق د مړي

ګيره خَرَوِي دا هم ناجائزه او ګناه ده- ګناه په مړي نه بلکه په خرئيلو والا او د دې حکم کوونکو باندې ده-

## د''يَارسول الله'' دلسو حروفو په نسبت د نوکانو کټ کولو لس سنتونه او آداب

(۱) د جُمعے په ورځ نوکان کټ کول مستحب دي- خو که زيات غټ شوي وي نو د جُمعے انتظار مه کوئ[٥٢] په يو روايت کښې دي: څوک چې د جُمعے په ورځ نوکان کټ کړي الله پاک به هغه د بلې جُمعے پورې د بلاګانو [يعني مصيبتونو، آفتونو] نه محفوظه ساتي او درې ورځې زياتې يعني لسو ورځو پورې. په يو روايت کښې دا هم دي چې څوک د جُمعے په ورځ نُوکان کټ کړي نو رحمت به راځي او ګناه به ځي[٥٣] (۲) په روايت کښې بيان شوې د کټ کولو طريقے خلاصه پيشِ خدمت ده: اول به د ښي لاس د شهادت د ګوتې نه شروع اوکړئ او په ترتيب سره به د قچئ ګوتې پورې نُوکان کټ کړئ خو غټه ګوته به پريږدئ- بيا به د کڼ لاس د قچې وړې ګوتې نه شروع اوکړئ او په ترتيب سره به د تولو ګوتو سره د غټې يا ګوتې نُوکان کټ کړئ بيا به په آخره کښې د ښې لاس د غټې ګوتې نوک کټ کړئ[٥٤] (۳) د ښپو د نوکانو کټ کولو څه ترتيب په رواياتو کښې نشته، خو بهتره دا ده چې د ښئ ښپې د کچئ ګوتې نه شروع اوکړئ او په ترتيب سره د غټې ګوتې پورې نُوکان کټ کړئ بيا د ګڅې ښپې د غټې ګوتې نه شروع اوکړئ او سره د وړې ګوتې تول نُوکان کټ کړئ[٥٥] (٤) د جنابت په حالت (يعني د غسل فرض کيدلو په

صورت کښې) نُوکان کټ کول مکروهِ (تنزيهي) دي[٥٦] (٥) په غاښونو نُوکان کټ کول مکروه (تنزيهي) دي او دې سره د برص (يعني دبرګي مرض) پيدا کيدلو انديښنه وي[٥٧] (٦) نُوکان کټ کولو نه پس خخ کړئ او که اوئې غورزوئ نو هم څه باک نشته[٥٨] (٧) کټ شوي نُوکان په بيت الخلا يا غسل خانه کښې غورځول مکروه (تنزيهي) دي ځکه چې دې سره بيماري پيدا کيږي[٥٩] (٨) د چارشنبے په ورځ نُوکان کټ کول نه دي پکار چې د برص (يعني برګي) پيدا کيدلو انديښنه وي البته که د يو کم څلويښتو ورځو نه ئې نه وو کټ کړي او نن د چارشنبے ورځې سره څلويښت پوره کيږي که نن ئې کټ نه کړي نو د څلويښتو نه به زياتې ورځې شي او صبا به يو څلويښتمه ورځ شروع شي نو په ده واجب دي چې هم نن ئې کټ کړي ځکه چې د څلويښتو ورځو نه زيات نُوکان ساتل ناجائز اومکروهِ تحريمي دي (تفصيلي معلوماتو د پاره فتاوي رضويه مخرجه جلد ٢٢ صفحه ٥٧٤، ٦٨٥ اوګورئ) (٩) غټ نُوکان د شيطان د ناستې ځائے وي يعني دلته شيطان ناسته کوي[٦٠] (١٠) د شپې په نوکانو کټ کولو کښې څه حرج (باک) نشته- **حکايت**: امام ابو يوسف رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه هارون رشيد د شپې د نوکانو کټ کولو په باره کښې تپوس اوکړو- هغوئي اوفرمائيل: جائز دي- هارون رشيد اووئيل په دې څه دليل دے؟ اوئې فرمائيل: حديثِ پاک کښې دي اَلۡخَيۡرُلَايُؤَخَّرُ يعني د خير په کار کښې دِ تاخير اونکړے شي[٦١]-

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ”د سُنّتو ډک لباس اغوندئ“ 17 حروفو په نسبت د لباس اغوستلو 17 سنتونه او آداب

اَوَّل درې فرامِینِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ﴿۱﴾ د پیریانو د سترګو او د خلقو د سِتر په مینځ کښې پرده دا ده چې کله څوك جامې ویستل غواړي نو[مخکښې دِ] بِسۡمِ الله اولولي. (۶۲) حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: څنګه چې دیوالونه او پَردې د خلقو د نظر نه پناهي جوړیږي دغسې به دا د الله تعالٰی ذِکر د پیریانو د سترګو نه پرده جوړیږي او شیطان به هغه [یعني شرمګاه] نه شي لیدلے. (۶۳)

﴿۲﴾ څوك چې جامې واغوندي او دا اولولي: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ کَسَانِیۡ هٰذَا وَرَزَقَنِیۡهِ مِنۡ غَیۡرِ حَوۡلٍ مِّنِّیۡ وَلَا قُوَّةٍ (ترجمه: ټول صِفَتونه الله تعالٰی لره دي چا چې ما ته دا جامې واغوستلې او زما د طاقت او قُوَّت نه بغیر ئې ما ته عطا کړې) نو د هغه تیر شوي او راروان ګُناهونه به معاف شي. (۶٤) ﴿۳﴾ څوك چې د قدرت [یعني د وَس] باوجود ښائسته او ښکلې جامې اغوستل د تواضُع (یعني د عاجزئ) په طور پریږدي، الله تعالٰی به هغه ته د کرامت حُلّه ور واغوندي(۶۵). (٤) مالداره که د الله پاك د نعمت د ښکاره کولو په نیت د شرعي خرابئ نه پاك ښه لباس واغوندي نو د ثواب حقدار دے (٥) د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لباس مبارك به اکثر د سپینې کپړے وو(۶۶) (٦) د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د ټولو نه بهتر لباس هغه دے چې تاسو ئې واغوندئ او تاسو پکښې د الله پاك دیدار [یعني د الله پاك دربار ته حاضري] په قبرونو او جماتونو کښې اوکړئ، هغه سپین دے-(۶۷)“ یعني په سپینو کپړو کښې لُمونځ کول او مړو ته کفن ورکول ښه دي(۶۸) (٧)

امام شافعي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ”څوک چې خپل لباس پاک اوساتي د هغه غمونه به کم شي او څوک چې خوشبو اولګوي د هغه په عقل کښې به اضافه کيږي“(٦٩) ﴿٨﴾ لباس د حلالې ګټې پکار دے او کوم لباس چې د حرامې ګټې نه حاصل شوے وي، په هغې کښې فرض او نفل يو لمُونځ هم نه قبليږي. (٧٠) ﴿٩﴾په يو روايت کښې دي: چا چې په ناسته عمامه اوتړله يا ئې په ولاړه باندې سَرَاوِيل (يعني پاجامه يا پرتوګ) واغوستلو نو **الله** تعالیٰ به هغه په داسے مرض کښې اخته کړي چې د هغې علاج نشته. (٧١) حضرت سيدنا امام برهان الدين زرنوجي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ليکي: پټکې په ناسته وهل،او پرتوګ په ولاړه ولاړه اچول د تنګدستۍ اسباب دي(٧٢) ﴿١٠﴾ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع کوئ (ځکه چې دا سنّت دي) مثلاً چه کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستوڼي کښې ښے لاس داخلوئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستوڼي کښې. (٧٣) ﴿١١﴾ هم دغسي پرتوګ اغوستلو کښې مخکښې په ښۍ پينڅه کښې ښۍ ښپه داخلوئ او چې کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ﴿١٢﴾ ”**بهارِشريعت**“ حِصَّه ١٦ صفحه ٤٠٩ کښې دي: سُنَّت دا دي چې د لمَن اوګږدوالے د پنډۍ د نيمې پورې وي او د لِستوڼي اوګږدوالے زيات نه زيات د ګوتو د پستو سرونو پورې او پلن والے ئې يو لويشت وي. (٧٤) ﴿١٣﴾ سُنَّت دا دي چې د نارينه تهبند يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټو [پړکو] نه پاس وي. (٧٥) ﴿١٤﴾ نارينه دِ د نارينؤ او ښځې دِ د ښځو جامے اغوندي، په وړو ماشومانو کښې هم د دې خبرې لحاظ ساتئ (ګنې ور اغوستلو والا به ګنهګار وي) خو چې کوم لباس نارينه او زنانه ماشوم او ماشومه دواړو اغوندي او څه شرعي خرابي پکښې هم نه وي نو دواړه ئې اغوښتے شي ﴿١٥﴾ ”**بهار**

**شريعت**“ جلد اول صفحه ٤٨١ کښې دي:د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه واخله د زنګونانو د لاندې پورې ”عورت“ (يعني پرده) ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې کښې شامِل نه دے او زنګونان پکښې شامِل دي. (٧٦) په دې زمانه کښې ډير خلق داسې شته چې تهبند [يعني لنګ] يا پرتوګ داسې اغوندي چې د سپوږو (يعني د نامه لاندې را وتلي ځائے) څه حصه ئې ښکاري، که په کُرته [يعني قميص] وغيره کښې داسې پټ وي چې د پوستکي (يعني څرمنې) رنګ پکښې نه ځليږي نو خير دے، ګني حرام دي او که په لـمانځه کښې د څلورمې حصے په قدر ښکاره وو نو لمونځ نه کيږي (٧٧) اِحرام والؤ ته په دې کښې د سخت احتياط ضرورت دے.

﴿١٦﴾ نن صبا بعضې خلق په ښکاره د خلقو په مخکښې جانګے (نيم پتلون) اغوستي ګرځي چې په هغې کښې د هغوئي زنګونان او ورنونه ښکاري دا حرام دي، د داسې خلقو ښکاره زنګونانو او ورنونو ته کتل هم **حرام** دي. بِالخصوص د لوبو په ميدان، د ورزش کولو ځائيونو [ يعني کلبونو وغيره] کښې او د سمندر په غاړه داسې نظارے زياتې وي. لِهٰذا داسې مُقاماتو ته په تللو کښې د نظر حفاظت کولو سخت ضروري دي ﴿١٧﴾ د **تَـکَـبُّر** په طور چې کوم لباس وي هغه ممنوع دے. (٧٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**حواله جات**

(1) مسلم، ص1156، حديث:2088۔(2) معجم کبير، 7/277، حديث:7132۔ (3)الشمائل المحمدية للترمذی، ص87، رقم:118۔(4)کتاب الورع مع موسوعہ ابن ابی الدنيا، 1/205۔(5)ابوداود، 4/470، حديث: 5273۔ (6) مسلم، ص1161، حديث:2096۔ (7)بخاری، 4/65، حديث:5855 ۔(8)نزہۃ القاری، 5/530۔ (9)حياة

الحیوان، 2/289۔ (10) ابوداود، 4/84، حدیث: 4099۔ (11) بہار شریعت، 3/422۔ (12) مستدرک، 2/
168، حدیث: 1869۔ (13) بخاری، 4/180، حدیث: 6272۔ (14) بہار شریعت، 3/432 ملخصاً (15) ابوداود،
4/345، حدیث: 4850۔ (16) مرآۃ المناجیح، 8/90۔ (17) معجم اوسط، 6/161، حدیث: 8361۔ (18) الادب
المفرد، ص291، حدیث: 1137۔ (19) المقاصد الحسنۃ، ص88۔ (20) مرآۃ المناجیح، 8/80۔ (21) مناقب الامام
الاعظم ابی حنیفۃ للموفق، حصہ: 2، ص7 بالتصرف۔ (22) شعب الایمان، 6/468، حدیث: 8933۔ (23) ابوداود،
4/338، حدیث: 4821۔ (24) فتاویٰ رضویہ، 24/369، 424 ملخصاً۔ (25) جامع صغیر، ص40، حدیث: 554۔
(26) ابوداود، 4/347، حدیث: 4857۔ (27 تا 28) ابوداود، 4/420، حدیث: 5095، 5096۔ (29) رد المحتار،
9/682۔ (30) بہار شریعت، 3/453، شرح الشفاء للقاری، 2/118۔ (31) الشمائل المحمدیۃ للترمذی، ص40،
حدیث: 32۔ (32) حدائق بخشش، ص121۔ (33) ابوداود، 4/103، حدیث: 4163۔ (34) اشعۃ اللمعات، 3/
617۔ (35) مصنف ابن ابی شیبہ، 6/117۔ (36) جامع صغیر، ص28، حدیث: 369۔ (37) کنز العمال، 7/46،
رقم: 18295۔ (38) معجم اوسط، 5/366، حدیث: 7629۔ (39) اشعۃ اللمعات، 3/616۔ (40) عمل الیوم واللیلۃ
لابن السنی، ص327، حدیث: 173۔ (41) احیاء العلوم، 3/45۔ (42) بہار شریعت، 3/449۔ (43) ترمذی، 3/
293، حدیث: 1762۔ (44) بہار شریعت، 3/592۔ (45) فیض القدیر، 6/404۔ (46) فتاویٰ رضویہ، 29/
92، 94۔ (47) بخاری، 1/81، حدیث: 168۔ (48) عمدۃ القاری، 2/476۔ (49 تا 50) بہار شریعت، 1/774،
997۔ (51) در مختار، 3/104۔ (52) در مختار، 9/668۔ (53) در مختار و رد المحتار، 9/668، 669، بہار شریعت،
3/583۔ (54 تا 55) در مختار، 9/670، احیاء العلوم، 1/193۔ (56 تا 59) عالمگیری، 5/358۔ (60) اتحاف
السادۃ، 2/653۔ (61) فتاویٰ عالمگیری، 5/358۔ (62) معجم اوسط، 2/59، حدیث: 2504۔ (63) مراٰۃ، 1/268۔
(64) شعب الایمان، 5/181، حدیث: 6285۔ (65) ابوداود، 4/326، حدیث: 4778۔ (66) کشف الالتباس فی
استحباب اللباس، ص36۔ (67) ابن ماجہ، 4/146، حدیث: 3568۔ (68) بہار شریعت، 3/403۔ (69) احیاء العلوم
(اردو)، 1/561۔ (70 تا 71) کشف الالتباس فی استحباب اللباس، ص41، 39۔ (72 تا 73) تعلیم المتعلم، ص43، 126۔
(74) رد المحتار، 9/579۔ (75) مراٰۃ، 6/94۔ (76) در مختار، رد المحتار، 2/93۔ (77) بہار شریعت، 1/481۔
(78) بہار شریعت، 3/409، رد المحتار، 9/579۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيك او لمونځ گزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د ترېيَت د پاره مَدَنِي قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَنِي اِنعاماتو رِساله ډكوئ او د هرې مَدَنِي مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَنِي مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَنِي قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com